## د طبي ټکنالوژي پوهنځي لنډه تاریخچه او پېژندنه

د سپین غرلوړو زده کړو مؤسســـې طبي ټکنالوژي پوهنځی په (۱۵/حمل/۱۳۹۰) نېټه د لوړو زده کړو وزارت سره رسماً ثبت او تأسیس شو. د یاد پوهنځي ټولې تدریســي، اداري او څېړنیزې چارې د پوهنځي د رئیس، مرســتیال، عمومي ډیپارټمنټ، پارا کلېنیک برخې او تدریســـــــي مدیریت ترڅنګ، اته ګونو (کیفیت لوړوني، تحصــیلي نصــاب، علمي څېړنو، ازموینو او نتایجو، نظم او دسپلین ، فرهنګي چارو، برېښــــنایي زده کړو او پلان او پالیسۍ) کمېټو له لورې پرمخ وړل کېږي.

یاد پوهنځی د طبي ټکنالوژي په برخه کې د کادري او باتجربه تدریســي او اداري پرسونل، مسـلکي مضـامینو اړوند یوولس تطبیقاتي لابراتوارونو، د عملي زده کړو لپاره معیاري تدریســي روغتون، عصـري تدریســي خونو او نورو ګڼو اسانتیاو په لرلو سره په مسلکي، اخلاقي، علمي او معیاري ډول محصلین روزي او د روغتیایي خدماتو په موخه یې ټولنې ته وړاندې کوي.

همدارنګه د طبــي ټکنالوژي پوهنځــي خپل درسي بهیـــر په کریډیټ سیســـــــتم برابر کړی او د لوړو زده کړو وزارت د لوایحو او پالیســـیو په رڼا کې د معیاري درسي نصـــاب په لرلو سـره، محصلینو ته تحصیلي خدمات وړاندې کوي.

د طبي ټکنالوژي پوهنځی د ســتراتېژیکو موخو ترلاســه کولو لپاره پینځه کلن ســـتراتېــژیک پلان لري، چې ټول اداري او تدریسي فعالیتونه یې د یاد پلان له مخې ترتیب او تنظیمېږي.





# د طبي ټکنالوژي پوهنځي د رئیس پیغام!

دا یو څرګند حقیقت دی، چې په اداراتو کې د اهدافو ټاکل او هغې ته د رسېدو لپاره باید لېواله، ژمن، مسؤلیت منونکي او با احساسه کاري ټیم ولرو، چې له نېکه مرغه سپین غرد لوړو زده کړو مؤسسې درې ګونې پوهنځي له دې ستر نعمت څخه برخمن دي.

د یو ژمن او مسؤلیت منونکي کاري ټیم په توګه زموږ مزل د اسلامي، قانوني او اداري لارښوونو مطابق په خورا ښه ډول پر مخ ځي. دا چې تعلیم او تحصیل اسلامي فریضه ده، نو په همدې توګه د ټولنې پرمختګ لپاره یو لازمي فکتور بلل کېږي. د طبي ټکنالوژي پوهنځی په ۱۳۹۰ لمریز کال کې د لوړو زده کړو وزارت سره رسماً ثبت شوی دی، چې دا مهال په خپل جوړښت کې د پوهنځي ریاست، معاونیت، عمومي ډیپارټمنټ، پارا کلینیک برخې او د تدریسي مدیریت سربېره اته ګونې کمېټې لري او په یاد پوهنځي کې اوسمهال سلګونه تنه محصلین په زده کړو بوخت دي.

د غوره خدماتو او تدریس کیفیت ښه والي په موخه د طبي ټکنالوژي پوهنځی د معیاري تدریسي چاپیریال، مجهزو تطبیقاتي لابراتوارونو، مجهز کتابتون ، معیاري کمپیوټر لېب، مجربو او مسلکي استادانو ، د پنځوس بستریز تدریسي روغتون لابراتوار څانګې سربېره، د استادانو او محصلینو علمي څېړنو ترسره کولو په موخه، معیاري او په طبي وسایلو سنبال څېړنیز مرکز هم لري، چې د پوهنځي استادان او محصلین پکې عملاً د څېړنو په ترسره کولو بوخت دي.

دا چې د اداري ثبات او تداوم په اهدافو پورې تړلی دی او د اهدافو ترلاسه کولو لپاره حتمي ده، چې تحصیلي بنسټ د مسلکي او باتجربه بشري قوې او امکاناتو په لرلو سره د اهدافو ترلاسه کولو په موخه لنډ مهاله او اوږد مهاله پلانونه ولري؛ نو پر همدې بنسټ د طبي ټکنالوژي پوهنځي د راتلونکو پینځه کالونو لپاره ستراتیژیک پلان ترتیب کړی، چې پوهنځی به د دې پلان په تطبیق وکولی شي، په ټاکلې موده کې د لابراتوارونو ارتقاء، اعتبار اخیستنې او نویو برنامو ایجاد، په علمي او څېړنیزو چارو او اداري سیستمونو کې د پام وړ مثبت بدلونونه او پرمختګونه رامنځته کړي؛ چې له دې لارې به د پوهنځي د اهدافو تحقق، د مؤسسې د اهدافو په تحقق کې مُمد او تکمیلونکی ثابت شوی وي.

**محمد جمیل وسیم**
**د طبي ټکنالوژي پوهنځي رئیس**

# د طبي ټکنالوژي پوهنځي لرلید، رسالت او ستراتیژیک اهداف

## لرلید

د طبي ټکنالوژي پوهنځی غواړي، چې د غوره نظري-عملي تدریس او علمي څېړنو له لارې، ټولنې ته داسې فارغان وړاندې کړي چې د ناروغیو تشخیص یې د هېواد او سیمې په کچه د باور وړ وي.

## رسالت

طبي ټکنالوژي پوهنځی د معیاري تحصیلي نصاب، غوره تدریس، څېړنو، مجهزو لابراتوارونو او مسلکي استادانو پرمټ، داسې طبي ټکنالوجستان روزي، چې په ملي او سیمه ئیزه کچه د طبي لابراتوار تشخیصیه اړتیاو پوره کولو وړتیا لري.

## ستراتیژیک اهداف

- د پوهنځي محصلینو لپاره د معیاري زده کړو د اړینو اسانتیاو برابرول.
- د لابراتواري او روغتوني عملي کارونو له لارې د محصلینو مهارتونه لوړول.
- د طبي ټکنالوژي په برخه کې د علمي څېړنو او نوښتونو ترویج.
- د محصلینو ترمنځ د مسلکي اخلاقو او سلوکیاتو رعایت او پیاوړتیا.
- د ټولنې د اړتیاو پر بنسټ د نویو ډیپارټمنتونو ایجاد.
- له اړوند کاري شریکانو سره د متقابلو اړیکو پراختیا او ساتنه.
- د پوهنځي اړوند څانګو او برخو د تحصیلي نصابونو تدوین، تطبیق، تجدید او بیا کتنه.
- د کیفیت د تضمین او لوړاوي معیارونو تطبیق او ساتنه.
- په تدریسي، زده کړیزو او کاري پروسو کې د معلوماتي ټکنالوژی کارونه.
- د پوهنځي غیر ضروري لګښتونو کموالی او عوایدو زیاتوالی.
- په علمي، تدریسي او څېړنیزو چارو کې د شفافیت او عدالت تأمین.
- د ټولنې د اړتیاو پر بنسټ د فوق لیسانس برنامو ایجاد.

# ډيپارټمنټونه

د طبي ټکنالوژي پوهنځی اوس مهال يو (عمومي) ډيپارټمنټ لري:


## د عمومي ډيپارټمنټ لرليد، ماموريت او ستراتيژيک اهداف

د طبي ټکنالوژي پوهنځي عمومي ډيپارټمنټ غواړي چې د نظري، عملي تدريس او علمي څېړنو په مرسته داسې طبي ټکنالوجيستان وروزي، چې د ناروغيو تشخيص په معياري لابراتواري پروسيجرونو سره ترسره کړای شي.


د طبي ټکنالوژي پوهنځي عمومي ډيپارټمنټ د معياري تحصيلي نصاب، څېړنې، تدريس، عملي زده کړو او مجربو استادانو پر مټ، داسې ټکنالوجيستان ټولنې ته وړاندې کوي چې د عامې روغتيا سکتور تشخيصيه اړتياوې پوره کړای شي.

- د استادانو او محصلينو ظرفيت لوړونه.
- د ناروغيو په تشخيص کې د لابراتواري ازمايښتونو د اساساتو پېژندنه.
- د محصلينو مسلکي مهارتونو لوړولو په موخه، د لابراتواري تجهيزاتو او معلوماتي ټکنالوژيکي وسايلو کارونه.
- په لابراتواري پروسيجرونو کې د کيفيت کنټرول په اهميت او کارونه باندې د محصلينو پوهونه.
- محصلينو ته د نمونې اخيستلو غوره او معياري مېتودونو ورپېژندنه.
- محصلينو ته د طبي لابراتوار کاري اصولو ورپېژندنه.
- محصلينو ته د څېړنو پر بنسټ د نويو لابراتواري پروسيجرونو ښودنه.
- د محصلينو مسلکي اخلاقي کړنو ته وده ورکول او په ټولو لابراتواري فعاليتونو کې محرميت ساتل.
- د تدريس،تحقيق او نوښتونو پر مټ د ټکنالوجيستانو روغتيايي پاملرنو خدماتو کيفيت لوړاوی.
- د محصلينو تر منځ د اسلامي اخلاقي معيارونو او مسلکيتوب وده او پراختيا.
- د لابراتواري موندنو په تحليل او تجزيه کې د محصلينو وړتياوې لوړول.
- د استادانو پر مټ د تحصيلي نصاب مطابق د معياري درسي موادو ترتيبول.


# تشکیلاتي جوړښت



# پوهنځي تشکیلاتي جوړښت



# استادان



استاد نوم: ټکنالوجیسټ نور علم لقماني
پوهنځی: طبي تکنالوژي
تحصیل کچه: BMLT



استاد نوم: ټکنالوجیسټ محمد طارق شینواری
پوهنځی: طبي تکنالوژي
تحصیل کچه: BMLT



استاد نوم: دوکتور امان الله مومند
پوهنځی: طبي تکنالوژي
تحصیل کچه: MD



استاد نوم: دوکتور صداقت الله هاشمي
پوهنځی: طبي تکنالوژي
تحصیل کچه: MD



استاد نوم: مولوي محمد نعیم رحماني
پوهنځی: طبي تکنالوژي
تحصیل کچه: ماسټر



استاد نوم: مولوي عزیز الله عزیر
پوهنځی: طبي تکنالوژي
تحصیل کچه: ماسټر



استاد نوم: بصیر احمد اندیال
پوهنځی: طبي تکنالوژي
تحصیل کچه: لیسانس

# د پوهنځي د استادانو احصائیه

**د پوهنځي د استادانو احصائیه**

| د استادانو شمیر | تحصیل درجه | | | د قرارداد نوعیت | |
|---|---|---|---|---|---|
| | BMT | ماستر | دکتور | دایمي | قراردادي |
| 21 | 15 | 4 | 2 | 8 | 13 |

**د عمومي ډیپارټمنټ استادانو احصائیه**

| د استادانو شمیر | تحصیل درجه | | | د قرارداد نوعیت | |
|---|---|---|---|---|---|
| | BMT | ماستر | دکتور | دایمي | قراردادي |
| 7 | 7 | 0 | 0 | 6 | 1 |

**د پاراکلینیک برخې استادانو احصائیه**

| د استادانو شمیر | تحصیل درجه | | | د قرارداد نوعیت | |
|---|---|---|---|---|---|
| | BMT | ماستر | دکتور | دایمي | قراردادي |
| 6 | 5 | 0 | 1 | 4 | 2 |

| برحاله محصلین | | فارغان | | درسي وختونه | |
|---|---|---|---|---|---|
| نارینه | ښځینه | نارینه | ښځینه | پیل | پای |
| 251 | 0 | 49 | 0 | 7:00 AM | 12:00 PM |
| | | | | 12:00 PM | 4:00 PM |

# د پوهنځي په کچه فعالې کمېټې

## فرعي کمېټې

- د کيفيت لوړونې فرعي کمېټه
- د علمي څېړنو فرعي کمېټه
- د تحصيلي نصاب (کريکولم) فرعي کمېټه
- بريښنايي زده کړو فرعي کمېټه
- نظم او ډسپلين فرعي کمېټه
- فرهنګي چارو فرعي کمېټه
- پلان او پاليسۍ فرعي کمېټه
- د ازموينو او نتايجو انسجام فرعي کمېټه

# د پوهنځي سهولتونه، زیربناوې او امکانات



## تدریسي خوني

سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسه (ننگرهار) د درې ګونو پوهنځیو لپاره د لوړو زده کړو وزارت د کیفیت د تضمین او ساتنې معیارونو په نظر کې نیولو سره، د نوي عصر له اړتیاو سره برابرې او په ټکنالوژۍ سنبالې معیاري تدریسي خونې لري. د مؤسسې د ودانۍ په جوړښت کې د دویم منزل څخه تر پینځم منزل پورې د هر پوهنځي لپاره جدا تدریسي خونې، د تدریسي وسایلو او سهولتونو په درلودلو سره ترتیب او د مجربو او متخصصو استادانو له خوا په کې معیاري تدریس ترسره کېږي.



## مجهز کمپیوټر لیب

سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسه (ننگرهار) معیاري او په عصري او ټکنالوژیکي وسایلو سمبال کمپیوټر لېب لري، چې د طبي ټکنالوژي پوهنځي محصلین هم ورځخه د مهالویش له مخې ګټه پوره کوي دا کمپیوټر لېب د مؤسسې د برحاله محصلینو د نصابي او اضافه نصابي فعالیتونو او معلوماتو د راټولولو او څېړنیزو فعالیتونو لپاره کارول کېږي. همدارنګه د مؤسسې کمپیوټر لېب کې محصلین کولای شي چې د زده کړو مختلفو آنلاین سرچینو ته لاسرسی پیدا کړي او معلومات وپلټي. کمپیوټر لېب له شنبې څخه تر چهار شنبې ورځې پورې پرانیستی وي او کمپیوټرونه یې د مؤسسې د ډیټابېس د لاسرسي په شمول، د مایکروسافټ آفِس، چټک انټرنېټ او نورو پرمختللو او ډېر کارېدونکو سافټویرونو درلودونکي دي.



## د کنفرانسونو تالار


سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسه کې د کنفرانسونو او غونډو تالار، د لوړو معیارونو او مشخصاتو په پام کې نیولو سره جوړ شوی دی او د مؤسسې د کار کوونکو او محصلانو د مختلفو غونډو، مجالسو، سیمینارونو او ورکشاپونو لپاره ورځخه استفاده کېږي. یاد تالار د (۷۰) تنو ګډون کوونکو ظرفیت لري، چې د عصري غربزې ټکنالوژۍ، د پروجیکشن لپاره عصري او پراخه ایل سي ډي، د پریزنټیشن اړوند اسانتیاو، چټک انټرنېټ او د ګرمې او یخې هوا د کنټرول سیستمونو ترڅنګ، د ګڼ شمېر نورو سهولتونو او امکاناتو درلودونکی دی.

# د پوهنځي سهولتونه، زیربناوې او امکانات




## د غونډو تالار

سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسې د غونډو تالار (آډیټوریم) د مؤسسې د لویو علمي او کلتوري غونډو او برنامو لپاره کارول کېږي. د مؤسسې د غونډو تالار چې د (۵۰۰) ګډون کوونکو ظرفیت لري، د لوړو زده کړو وزارت د معیارونو، عصري ټکنالوژۍ، قوي انټرنېټ، ایل سي ډي، مسترح چوکیو، د ګرمۍ او یخنۍ لپاره د مجهزو سیستمونو، د معیاري ډیکوریشن، غږیز عصري سیستم او نورو سهولتونو او امکاناتو درلودونکی دی. د مؤسسې آډیټوریم د تعمیر په وروستي منزل کې قرار لري او د مؤسسې د محصلینو، استادانو او کارکوونکو ټولې لویې غونډې په کې ترسره کېږي.




## مرکزي کتابتون

سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسې فزیکي او ډیجیټل کتابتون، د کتابونو او معلوماتي موادو پراخه زیرمه لري، تر څو د زده کړې، تدریس او څېړنې اړتیاوې پوره کړي. د مؤسسې فزیکي کتابتون د پوهنځیو د نصاب اړوند مضامینو لپاره د اصلي او کومکي کتابونو ډېر ډولونه لري. د مؤسسې فزیکي کتابتون د ۲۰۰۰۰ کتابونو ظرفیت لري چې اوس مهال په کتابتون کې زرګونه کتابونه، ژورنالونه، مجلې، ورځپاڼې ویډیویي کلیپونه او نورې غږیزې سرچینې شتون لري. په کتابتون کې عصري او د چټک انټرنېټ لرونکي کمپیوټرونه، د مؤسسې د ډیټابیس ډیجیټل کتابتون، د نورو معیاري او پرمختللو ډیجیټل کتابتونونو وړیا لینکونه، د بهرنیو معتبرو نشروونکو ادارو له خوا د لوړ کیفیت لرونکي بالمعاوضه محتوا، د مطالعې لپاره ارام چاپیریال، د انفرادي او ګروپي مطالعې لپاره د جلا جلا خونو درلودونکی دی. کتابتون له شنبې څخه تر چهار شنبې پورې د سهار له ۷ بجو څخه تر ماذیګر ۵ بجو پورې پرانیستی وي او ټول محصلین او کارکونکي کولای شي د معلوم طرزالعمل له لارې له کتابتون څخه ګټه پورته کړي.



## کانتین (کیفیټیریا)

سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسې کانتین (کیفیټیریا) د مؤسسې د ودانۍ له تأسیساتو څخه شمېرل کېږي، چې د مؤسسې محصلینو، کارکونکو او استادانو ته د خوراک، څښاک، فوتوکاپي، قرطاسیه پلورنځي او دې ته ورته نور اړوند خدمات وړاندې کوي. د کانتین ودانۍ د مؤسسې د ودانۍ پورې تړلې شتمني ده، ټول محصلین او کارکونکي کولای شي په ارامه فضاء کې د کانتین له خوړو او خدماتو څخه خوند واخلي. د کانتین ټول خدمات د بازار له نرخونو، کمیت او کیفیت اصل ته په کتو سره، د مؤسسې د اداري مسؤلینو له خوا څارل کیږي.

# د پوهنځي سهولتونه، زیربناوې او امکانات

## د لومړنیو روغتیایي مرستو خونه (صحي کلینیک)

سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسې د لومړنیو روغتیایي مرستو خونه (صحي کلینیک) د عاجلو طبي خدماتو او مرستو لپاره ایجاد شوې ده تر څو د مؤسسې د کارکوونکو او محصلینو د لومړنیو روغتیایي مرستو په برخه کې هغوی ته خدمات وړاندې کړي. د مؤسسې د لومړنیو مرستو خونه (صحي کلینیک) د تجربه لرونکو ډاکټرانو او مسلکي نرسانو له خوا سنبالیږي، تر څو د عاجلو روغتیایي ستونزو لپاره لارښوونه او درملنه ترسره کړي. د لومړنیو مرستو خونې د مسؤلو اشخاصو د اړیکو شمېرې د مؤسسې په ټولو دهلیزونو کې نصب شوي دي تر څو د عاجلو پېښو په صورت کې ورسره محصلین اړیکه ونیسي. د صحي کلینیک ټول خدمات وړیا دي او کوم لګښت نه لري. د مؤسسې د لومړنیو مرستو خونه له شنبې څخه تر چهار شنبې، د سهار له ۷ بجو څخه د ماذیګر تر ۴ بجو پورې خپل خدمات وړاندې کوي.







## څېړنیز مرکز

سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسې د لرلید، ماموریت او ستراتیژیکو اهدافو او د مؤسسې د اصلي دندو په لړ کې، چې تدریس او څېړنه بلل کېږي، د مؤسسې په کچه د دريې ګونو پوهنځیو محصلینو او استادانو د طبي څېړنو لپاره څېړنیز مرکز ایجاد شوی دی. په نوموړي څېړنیز مرکز کې د استادانو او محصلینو د څېړنو د ترسراوي او عملیو لپاره ګڼ شمېر معیاري او پرمختللي ماشین آلات او وسایل موجود دي. د مؤسسې څېړنیز مرکز د لوړو زده کړو وزارت او عامې روغتیا وزارت د معیارونو او غوښتنو مطابق برابر شوی دی او د یاد مرکز اصلي کاري ساحه د تجربوي او لابرتواري څېړنو ترسره کول دي. تاسې کولای شئ د څېړنیز مرکز د نوښتونو، اسانتیاو او نورو برخو لپاره د مؤسسې څېړنیز مرکز د نږدې څخه وګورئ او معلومات ترلاسه کړئ.









# د پوهنځي سهولتونه، زیربناوې او امکانات



## نشراتي ستوډیو

سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسه د علمي، نشراتي او عامه پوهاوي ویډیوګانو د ثبت او نشر لپاره، معیاري او په ټولو وسایلو او تجهیزاتو سنبال ستوډیو لري، تر څو په اړوندو برخو کې د لوړ کیفیت ویډیویي کلیپونه ثبت او نشر شي. په دې کې به د مؤسسې محصلینو ته د لکچرونو ثبت، برېښنایي زده کړو اړوندو برنامو، د مؤسسې د عامه پوهاوي ویډیویي پیغامونه او برنامې، د کانکور ازموینو اړوند معلوماتي او لارښود ویډیویي کلیپونه، د لویو غونډو پوښښ او ویډیویي کلیپونه، استادانو سره په مهمو علمي او زده کړیزو موضوعاتو باندې مرکې شاملې وي. د مؤسسې ستوډیو د نوي عصر او تکنالوژۍ په ټولو اړینو وسایلو او سهولتونو پوره او اوس مهال ورځخه په ټولو یادو برنامو کې کار اخېستل کېږي.



## اداري دفترونه

سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسې د اداري او علمي څانګو لپاره کاري دفترونه، د ټولو سهولتونو، امکاناتو، عصري او تکنالوژیکي وسایلو او د لوړو زده کړو وزارت د معیارونو او غوښتنو مطابق، په عصري بڼه چمتو کړي دي. د مؤسسې ټول دفاتر د اړوندو برخو لپاره د چټک لاسرسي وړ دي او په دې برخه کې د مؤسسې عمومي نقشه، د ودانۍ عمومي لارښود، د هر منزل د دفاترو لارښود او نورې اړینې لارښوونې په ودانۍ کې د چټک او اسانه لاسرسي په موخه نصب شوي دي. هغه کاندیدان چې غواړي په سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسه کې شمولیت ترلاسه کړي او خپل تحصیلي سفر له مونږ سره مخته یوسي، کولای شي د دې سهولتونو ترڅنګ د مؤسسې د سهولتونو او امکاناتو په تعقیب عصري او په ټولو وسایلو او سهولتونو سمبال اداري دفاتر وګوري.

## مجهز تدریسي روغتون

سپین غر مومند پنځوس بستریز معالجوي روغتون د سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسې تدریسي روغتون دی، چې په ټولو عصري طبي وسایلو سنبال دی او د مؤسسې د دريګونو پوهنځیو (عمومي طب، غاښونو طب او طبي ټکنالوژي) محصلین په کې اړینې عملي زده کړې تر لاسه کوي. سپین غر مومند پنځوس بستریز معالجوي او تدریسي روغتون کې اوسمهال د عمومي داخلي، عمومي جراحي، کوچنیانو، نسائي ولادي، غاښونو، سترګو، غوږ پزې او ستوني، انتاني، عقلي عصبي او هډوکو څانګې فعالې دي، چې د سیمې په کچه د مجربو متخصص ډاکټرانو په درلودلو سره، د مجهزو طبي وسایلو پر مټ، د ګڼو ناروغیو غوره تشخیص او دوامداره درملنه کوي.



# د پوهنځي د نصاب (کریکولم) لنډیز

| ګڼه | د مضامینو ډول | د مضامینو تعداد | د کریډېټونو شمېر | سلنه |
|---|---|---|---|---|
| 1 | پوهنتون شموله | 4 | 35 | 21.34% |
| 2 | اساسي مضامین | 4 | 9 | 5.48% |
| 3 | مسلکي مضامین | 18 | 103 | 62.80% |
| 4 | مونوګراف او سمینار | 1 | 1 | 0.60% |
| 5 | ستاژ | 0 | 16 | 9.75% |
| | مجموعه | 27 | 164 | 100% |

# تحصیلي نصـــاب

## First Year - First Semester

| No. | Subject | Code No | Credit Hours | Subject Category | Prerequisties | Theory | Practical | Total |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | Islamic Civilization | SL.IC.0171 | 2 | Collegiate | | 32 | 0 | 32 |
| 2 | Biography of Prophet P.B.U.H | SL.IC.0172 | 1 | Collegiate | | 16 | 0 | 16 |
| 3 | English Language | BMLT 1102 | 2 | Collegiate | | 32 | 0 | 32 |
| 4 | Computer | BMLT 1103 | 1 | Collegiate | | 16 | 0 | 16 |
| 5 | Physics | BMLT 1104 | 2 | Basic | | 16 | 16 | 32 |
| 6 | Parasitology | BMLT 1117 | 3 | Basic | | 32 | 16 | 48 |
| 7 | Anatomy | BMLT 1106 | 2 | Basic | | 16 | 16 | 32 |
| 8 | Management, principles, equipment Laboratory Practice ( Biosafety biosecurity) | BMLT 1108 | 3 | Basic | | 32 | 16 | 48 |
| 9 | Chemistry | BMLT 1107 | 2 | Basic | | 32 | 16 | 48 |
| 10 | Biology | BMLT 1125 | 3 | Collegiate | | 32 | 16 | 48 |

Total Credit Hours: 21

## First Year - Second Semester

| No. | Subject | Code No | Credit Hours | Subject Category | Prerequisties | Theory | Practical | Total |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | Worship System of Islam | SL.IC.0273 | 2 | Collegiate | | 32 | 0 | 32 |
| 2 | Biography of prophet (PBUH) | SL.IC.0274 | 2 | Collegiate | | 32 | 0 | 32 |
| 3 | English Language | BMLT 1202 | 2 | Collegiate | | 32 | 0 | 32 |
| 4 | Computer | BMLT 1203 | 1 | Collegiate | | 16 | | 16 |
| 5 | Biophysics | BMLT 1210 | 2 | Basic | | 16 | 16 | 32 |
| 6 | Parasitology | BMLT 1217 | 3 | Basic | | 32 | 16 | 48 |
| 7 | Anatomy | BMLT 1206 | 2 | Basic | | 16 | 16 | 32 |
| 8 | Management ,principles, equipment & Laboratory Practice ( Biosafety biosecurity) | BMLT 1208 | 2 | Basic | | 16 | 16 | 32 |
| 9 | Genetics | BMLT 1209 | 2 | Basic | | 16 | 16 | 32 |
| 10 | Physiology | BMLT 1224 | 3 | Basic | | 32 | 16 | 48 |

Total Credit Hours: 21

## Second Year - First Semester

| No. | Subject | Code No | Credit Hours | Subject Category | Prerequisties | Theory | Practical | Total |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | Ethnic System of Islam | SL.IC.0375 | 2 | Collegiate | | 32 | 0 | 32 |
| 2 | Social System of Islam | SL.IC.0376 | 2 | Collegiate | | 32 | 0 | 32 |
| 3 | Epidemiology | BMLT 2102 | 1 | Collegiate | | 16 | 0 | 16 |
| 4 | Physiopathology (Pathology) | BMLT 2111 | 2 | Basic | Histology | 16 | 16 | 32 |
| 5 | Histopathology (Pathalogy) | BMLT 2112 | 2 | Basic | Histology | 16 | 16 | 32 |
| 6 | Biochemistry | BMLT 2113 | 3 | Basic | Chemistry | 32 | 16 | 48 |
| 7 | Bacterialogy & Mycology | BMLT 2114 | 2 | Basic | Histology | 16 | 16 | 32 |
| 8 | Behavior Science | BMLT 2115 | 1 | Basic | | 16 | 0 | 16 |
| 9 | Hematology | BMLT 2116 | 3 | Basic | Biochemistry | 32 | 16 | 48 |
| 10 | Histology | BMLT 2105 | 3 | Basic | Biochemistry | 32 | 16 | 48 |

Total Credit Hours: 21

## Second Year - First Semester

| No. | Subject | Code No | Credit Hours | Subject Category | Prerequisties | Theory | Practical | Total |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | Ideological Studies | SL.IC.0477 | 2 | Collegiate | | 32 | 0 | 32 |
| 2 | Religions and Sects | SL.IC.0278 | 1 | Collegiate | | 16 | 0 | 16 |
| 3 | Medical Ethics | BMLT 1202 | 1 | Collegiate | | 16 | 0 | 16 |
| 4 | Physiopathology (Pathology) | BMLT 1203 | 2 | Collegiate | Histology | 16 | 16 | 32 |
| 5 | Histopathology (Pathology) | BMLT 1210 | 2 | Basic | Histology | 16 | 16 | 32 |
| 6 | Biochemistry | BMLT 1217 | 3 | Basic | Chemistry | 32 | 16 | 48 |
| 7 | Bacteriology & Mycology | BMLT 1206 | 2 | Basic | | 16 | 16 | 32 |
| 8 | Epidemiology | BMLT 1208 | 2 | Basic | | 16 | 16 | 32 |
| 9 | Hematology | BMLT 1209 | 3 | Basic | Biochemistry | 32 | 16 | 48 |
| 10 | Histology | BMLT 1224 | 3 | Basic | Bacteriology | 32 | 16 | 48 |

Total Credits: 21

## Year: 3, Semester: 5th

| No. | Subject | Code No | Credit Hours | Subject Category | Prerequisties | Theory | Practical | Total |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | Political System of Islam | SL.IC.0579 | 2 | Includes in all Universities | | 32 | 0 | 32 |
| 2 | Administrative System of Islam | SL.IC.0580 | 2 | Includes in all Universities | | 32 | 0 | 32 |
| 3 | Physiopathology (Pathology) | BMLT 3111 | 2 | Includes in all Universities | | 16 | 16 | 32 |
| 4 | Biochemistry | BMLT 3113 | 3 | Basic | Chemistry | 32 | 16 | 48 |
| 5 | Bacterialogy & Mycology | BMLT 3114 | 3 | Basic | Bacteriology | 32 | 16 | 48 |
| 6 | Virology | BMLT 3121 | 3 | Basic | | 32 | 16 | 48 |
| 7 | Hematology | BMLT 3116 | 3 | Basic | | 32 | 16 | 64 |
| 8 | Immunology & Serology | BMLT 3120 | 3 | Basic | Bacteriology | 32 | 16 | 48 |

Total Credits: 21

## Year: 3, Semester: 6th

| No. | Subject | Code No | Credit Hours | Subject Category | Prerequisties | Theory | Practical | Total |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | Economic System of Islam | SL.IC.0681 | 2 | Collegiate | | 32 | 0 | 32 |
| 2 | Biochemistry | BMLT 3213 | 4 | Collegiate | Chemistry | 32 | 32 | 64 |
| 3 | Bacterialogy & Mycology | BMLT 3214 | 3 | Basic | Bacteriology | 32 | 16 | 48 |
| 4 | Hematology | BMLT 3216 | 3 | Basic | Biochemistry | 32 | 16 | 48 |
| 5 | Immunology & Serology | BMLT 3220 | 3 | Basic | Biochemistry | 32 | 16 | 48 |
| 6 | Virology | BMLT 3221 | 2 | Basic | Biochemistry | 16 | 16 | 32 |
| 7 | Blood Banking | BMLT 3222 | 3 | Basic | Biochemistry | 32 | 16 | 48 |
| 8 | Research Methodology | BMLT 3126 | 1 | Includes in all Universities | | 16 | 16 | 32 |

Total Credit Hours: 21

## Year: 4, Semester: 7th

| No. | Subject | Code No | Credit Hours | Subject Category | Prerequisties | Theory | Practical | Total |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | Quran and Contemporary System of Islam | SL.IC.0782 | 2 | Collegiate | | 32 | 0 | 32 |
| 2 | Islamic Civilization | SL.IC.0883 | 2 | Collegiate | | 32 | 0 | 32 |
| 3 | Biochemistry | BMLT 4113 | 3 | Basic | Chemistry | 16 | 32 | 48 |
| 4 | Bacterialogy & Mycology | BMLT 4114 | 3 | Basic | Bacteriology | 16 | 32 | 48 |
| 5 | Hematology | BMLT 4116 | 3 | Basic | Biochemistry | 16 | 32 | 48 |
| 6 | Immunology & Serology | BMLT 4120 | 3 | Basic | Bacteriology | 32 | 16 | 48 |
| 7 | Blood Banking | BMLT 4122 | 3 | Basic | Biochemistry | 16 | 32 | 48 |
| 8 | Toxicology | BMLT 4123 | 2 | | Pharmacology | 16 | 16 | 32 |

Total Credit Hours: 21

## Year: 4, Semester: 8th

### Monograph + House Job

| No. | Subject | Theory | Practical | Total |
|---|---|---|---|---|
| 1 | Monograph | 0 | 1 | 1 |
| 2 | Biochemistry | Four Weeks | | |
| 3 | Bacterialogy & Mycology | Three Weeks | | |
| 4 | Hematology | Three Weeks | | |
| 5 | Immunology & Serology | One Week | | |
| 6 | Virology | One Week | | |
| 7 | Blood Banking | One Week | | |
| 8 | Research Methodology | One Week | | |
| 9 | Histopathology | One Week | | |
| 10 | Parasitology | One Week | | |

# طبي
# ټکنالوژي
# پوهنځی

سپين غر د لوړو زده کړو مؤسسې د طبي ټکنالوژي پوهنځي کتلاګ، د مؤسسې علمي شورا
په ۱۴۰۳/۰۵/۲۹ نېټه جلسه‌کې د رایو په اکثریت تائید او په (۷)مه ګڼه پروتوکول کتاب کې ثبت دی.